# د خواجه حافظ او رحمان بابا
# د فکر او فن مماثلت

# A Comparison of the Vision & Style of Rahman Baba and Khawaja Hafiz

**Dr Wazir Shadan**[*]
**Dr Farkhanda Liaqat** [**]

**ABSTRACT**

Pashto and Persian(language and literary traditions) emanate from the same sole source and go side by side for centuries.In many families both the languages remain the means for communication within and out of families.Pashto and Persion therefore continue to strengthen each other imperceptibly.The Persion poet laureate Hafiz Sherazi and the Pashtun luminary A Rehman Baba seem to be in line with each other in terms of artistic style and spiritual insight.The present paper attempts to throw light on the same proposition

انسان ته الله پاک څۀ داسې ځانګړي صفتونه وربخښلي دي چې هغه ئې د نورو مخلوقاتونه افضل کړے او ممتاز کړے دے.په هغه اهمو بخښنو کښې یوه بخښنه د نطق او ګویایۍ ده چې انسان د خپلو جذباتو او احساساتو اظهارېرې په ښکاره او ښکلي ډول کولے شي. خو هر وګړے دا خوبي نۀ لري چې خبره دې په داسې خوند او رنګ وکړي چې اوربدونکي یا لوستونکي ترې اثر واخلي – دغه امتیاز په اولس کښې دځنې خلقو په برخه دے چې په هغو کښې د شاعرانو او ادیبانو برخه څرګنده ده.

---

[*] Assistant prof Government Post Graduate Collage Kohat
[**] Associate Professor Pashto Academy University of Peshawar

په نړۍ کښې په زرونو ژبې وئيلې شي .ځنې ژبې قوي او بااثره وي ولې ځنې ژبې ډېرې په مشکله دخپلې بقاخاپونه په شاپرېږدي. فارسي او پښتو د نړۍ زړې او ښيرازه ژبې دي. دې دواړو ژبوپه خپل خپل دور کښې داسې نومورې شاعران او اديبان زېږولي دي چې د رڼاپلوشې ئې خورې ورې لاړې دي.

رودکي، فردوسي، حکيم عمرخيام، حکيم سنائي، انوري، خاقاني، نظامي، خواجه فريدالدين عطار، مولاناجلالالدين رومي، شيخ سعدي، اميرخسرو، حافظ شيرازي اوعبدالرحمان جامي وغېره دفارسۍ ژبې هغه خوشنوا بلبلان دي چې دفارسۍ ادبي چمن ئې پخپلو رواياتي او نوؤ نغمودهمېشه دپاره مغني کړے دے. هم داشان خوشحال خان خټک، رحمان بابا، معزالله خان مومند ، مصري خان ګګيانړے ، حميدبابا، کامګارخټک، علي خان، کاظم خان شېد، حمزه بابا اوداسې نوردپښتوادب وياړدے چې د شعر تاثير ئې منلے شوےدے.

فارسي اوپښتوديوبل سره له ځايه خواپه خواپاتې ژبې دي. په ځنې وختونوکښې خودواړه ديوکورژبې وې خوکله چې دجغرافيائي حدونوکرښې راښکلې شوې نودواړه ديوې بلې ګاونډي ژبې وبلل شوې. خواخبره ددليل محتاجه نۀ ده چې هرکله يودوه ژبې په زرونه سوؤنه کاله يوځائے پاتې شي اوديوله بله اثرواخلي؟ فارسۍ اوپښتوهم په دغه اساس ديوله بله ښۀ اثر اخستې دے بلکې دپښتوزياتوکلاسيکي شاعرانو دپښتوسره سره په فارسۍ ژبه کښې هم شعرونه ليکلي دي. دکلاسيکي دورداسې شاعربه نۀ وي چې د فارسي ژبې ترکيبات ئې نۀ وي راوړي يائې په څۀ نه څۀ ډول دفارسۍ نه استفاده نۀ وي کړے.

محمدشمس الدين معروف به حافظ شيرازي دتېموري دوردا تمې صدۍ هجرۍ هغه شاعردے چې د رنګين اومهين غزل شاهي تاج په سر د فارسۍ ادبي سلطنت ته دغزل دشهنشاء په صورت کښې راغے اودعرفان او تصوف نغمې ئې خورې کړې. داخلاقياتوسره سره ئې دعشقيه غزل داسې سحر

انګېز بوي خور کړوچې په ګړده نړۍ ئې اثروکړو.غزل ئې مست اوځوان کړو- په یولسمه صدۍ هجرۍ کښې په بهادرکلي پېښوړکښې د دونهې په غاړه ناست یوملنګ اوصوفي شاعرعبدالرحمان باباد خواجه حافظ دغزل خوشبوي محسوسوي،اثرترې اخلي اوپه داسې خوندرنګ غزل وائي چې دپښتوخواجه حافظ لقب خپلوي.

قاضي میراحمدشاه رضواني وائي:

بیاپه دوردشاه عالم په سرېنوکښې
راښکاره شوپه جهان عبدالرحمان
تابه وي چې دشیرازخواجه حافظ دے
چې پیداشوپه اولس کښې دافغان (۱)

یوا ړخ ته که دخوږې اوپستې لهجې په سبب خواجه حافظ ته لسان الغیب وئیلے شوي دي نوبل اړخ ته رحمان باباهم دغه تاج په سر لري.

پیرمحمدکاکړپه دغه باب وائي:

که هرڅووائي نازک نکته دان شعر
ولې دوي ګڼي معجزد رحمان شعر
جوړپه شعرکښې رحمان لسان الغیب دے
په داخېرنشته هرګز د انسان شعر(۲)

دخواجه حافظ او رحمان بابادورونوته چې سرېے ګوري نوداخبره ترې په ډاګه کیږي چې د دواړوخوږژبوشاعرانودورونه دنفاق،فساد ،لالچ اودکورنو شخړوڅخه ډک وو.دچنګېزخان دخونړي سېلاب نه پس دهغوي ځامنودېلاروسیع سلطنت برخې برخې کړو.د اړۍ ګړۍ په دغه دورکښې" تېمورسمرقندي "دترکستان نه راپا څې . خراسان ، سیستان ، اذربائیجان ، ایران اوشام فتح کوي.

مرزامقبول بېګ بدخشاني په دغه حواله لیکي:

"اس (امیر تیمور) کی فتوحات کی ہلاکت اور تباہی چنگیزی بربریت کا مقابلہ تو نہیں کر سکتی، لیکن انسانی خون بہانے اور اباد گھروں کو تباہ و برباد کرنے کا وہ بھی والہ و شیدائی تھا. کسی علاقے کے لوگ جب ہتھیار ڈال دیتے تو وہ اپنی تلوار میاں سے نکالتا، جس کی پیروی کرتے ہوئے ہزارہا تلواریں آن کی آن میں انسانوں کے خونِ بے گناہ سے رنگین ہو جاتی. اس کے بعد حکم ہوتا کہ شہر کو تباہ و برباد کر دیا جائے، چناچہ گھروں کے گھر سطح زمین کے برابر کر دئے جاتے. یہاں تک تباہی ہوتی کہ نباتات تک کا نشان مٹا دیا جاتا کبھی کبھی تو ایسا بھی ہوتا کہ بے گناہوں کے سر کاٹ کران کے مینار کھڑے کئے جاتے تاکہ وحشت وہلاکت کی داستانیں دور دور تک پھیل جائے اور کسی کو جرات نہ ہو کہ تیموری یلغارون میں مقابلے کا خیال کر سکے. (۳)"

خواجه حافظ د دې دور د فساد په حقله وائي:

اینچه شوریست که در دورِ قمر مے بینم
همه آفاق پر از فتنه و شر مے بینم (۴)

ترجمه: د قمر یعني د مسلمانانو په دور کښې څۀ عجیبه شور و شر وینم. ټوله نړۍ فتنې او فساد په سر اخستې ده.

رحمان بابا د خپل دور نقشه په دې رنګ وړاندې کوي.

په سبب د حاکمانو ظالمانو
ګور و اور او پېښور درې واړه یو دي (۵)

او یا داچې:

اورنګزېب هم یو فقیر ؤ
چې تو پۍ ئې وه په سر

وتــــوپې وتــــه ئـــې شـــاکړه
چـــې قادرشـــوپرې افســـر
خـــوئې هـــومره فقيـــري وه
چـــې څـــهٔ نـــهٔ وومیســـر
چـــې فلـــک ئـــې يـــاري وکـــړه
نـــورئې ملـــک کړومســـخر
ګـــوره څـــهٔ چـــارې ئـــې وکـــړې
پـــه عيـــال دخپـــل پـــدر
وارپـــه وارئـــې ترتېـــغ تېرکـــړو
دخـــرم تمـــام تبـــر
يـــوتبردخرم څـــهٔ وو
ډېرعـــالم ئـــې کـــړل ډبـــر
تمـــامي جهـــان ئـــې ونغـــړد
چـــې ئـــې لاس شـــهٔ بانـــدې بـــر(۲)

په داسې خونړي دورکښې غزل ته دتغزل جامه وراغوستل دخواجه حافظ او رحمان باباکاردے.دهغوي دغزل تاثيرهغوي په خپل ژوندمحسوس کړے وو.
حافظ شيرازي وائي:

شعرِحافظ راکه يکسرمدحِ احسانِ شماست
هرکجابشنيده اند،ازلطفِ تحسين کرده اند(۷)

يعني ستاد احسان په تعريف کښې چې دحافظ شعرهرچرته اوربدلے شوے دے نوستائينه ئې شوې ده.

رحمان باباوائي:

ستا دحسن دتعريف له برکته
درحمان دشعرکوکې په عالم دي (۸)

حافظ وائي:

زشعرِ حافظ شيراز،مي گويند ومي رقصند
سيه چشمانِ کشميري وترکانِ سمرقندي(۹)

ترجمه:دکشميراوسمرقنددتوروسترگوخوبريان چې دحافظ شيرازي شعرونه اوري نو رقص پرې کوي.

رحمان بابا وائي:

هم نغمې کاندي هم رقص کاهم خاندي
درحمان په شعرترکې دباگرام(۱۰)

دخپل کلام دانتخاب په حواله دواړه يوشان دعوي لري:

حافظ شيرازي وائي:

شعرحافظ همه بيت الغزلِ معرفت ست
افرين برنفسِ دلکش ولطفِ سخنش(۱۱)

يعني دحافظ ټول کلام دمعرفت په حواله منتخب دے.دهغوي په زړۀ پورې اولطيف اندازِبيان دې افرين وي.

رحمان بابا هم دغه مضمون داسې بيانوي:

په غزل کښې خودوه بيته انتخاب وي
د رحمان تمام غزل دے انتخاب (۱۲)

د حافظ شيرازي او رحمان باباد ديوانونو دمطالعې څخه برېښي چې د دواړو نامتو شاعرانو پرموضوعات ديوبل سره ډېرنږدې دي.دسوزانده شعرخاوندان لسان الغيب غزالخوان شاعران دعرفان، تصوف، عشق، اخلاقيات، فاني دنيا ،محنت اوهمت،اخلاص اوعاجزي په حواله د فکر

مشابهت لري. دواړه شاعران دغزل په حواله پېژندلے شي.د دواړوشاعرانو يو يو ديوان مونږته پاتې دے. دواړه غزلخوان شاعران دخپل خپل مکتب سرخېل ګڼلے شي چې دډېروموضوعاتو دځانګړتياباوجود هم تردېره حده دفکر اوفن په حواله يوشانوالے لري.خوددې دامقصدبېخي نۀ دے چې ګني ددوي ترمېنځ تضادنشته.يابېخي ديوبل نقل دے.دځنې نوروموضوعاتوترڅنګ يواهم تضاد داد ے چې خواجه حافظ دبادشاه په حضورياهغوي ته د رسېدوپه خاطردهغوي په شان کښې قصيدې وئيلې دي خو رحمان بابا ددې قسم شاعرۍ نه بې نيازه دے.که دخواجه حافظ د ديوان لويه برخه دخمرياتواو رندانه شاعرۍ نه ډکه ده نو د رحمان باباپه ديوان داخلاقي او اصلاحي شاعرۍ ښادرخورد ے. دچاشاعرڅخه اثراخستل ياتوارد هېڅ ګناه نۀ ده.خو رحمان بابا ته په پوره ډول دخواجه حافظ پېروکاروئيل يادخواجه حافظ هره خبره د رحمان باباپه خولۀ کول زماپه خيال ناپوهي ده ځکه چې رحمان بابادفکر اوفن په حواله ځان له يوه خپله ځانګړتيالري چې نورشاعران ترې محرومه دي لکه هغوي په خپله وائي

داچې نورشاعران کاندي هغه نۀ کا
رحمان کړے نوے نوے اجتهاد دے(۱۲)

دغه شان دخواجه حافظ هم يوخپل انفراديت دے چې نورشاعران ئې نۀ لري.البته دخواجه حافظ او رحمان باباډېرشعرونه دفکر اوفن په حواله يوتربله نژدې دي.

په دغه باب دوست محمدخان کامل ليکي:

" په فارسي غزل کښې چې کومه خوږه اومزه ناکه ژبه حافظ لري،رحمان بابا ئې په پښتوکښې لرونکے دےلکه چې دخارجي اوداخلي شهادتونه نه ښکاره ده،رحمان بابايولوستے اوښۀ عالم سړےؤ.له ديوانه ئې فارسي ژبې

سره دښئ واقفیت اندازه په ډېرښئ شان کېدے شي..... زمونږ شاعرانو ادیبانو په شمول دخوشحال بابا او رحمان بابا دعربۍ او فارسۍ له استاذانو کافي فېض حاصل کړے دے. ترڅوچې درحمان بابا تعلق دے، دهغۀ په کلام کښې هم دفارسۍ ادب د استاذانو خصوصاً دحافظ دفکراونظر او خاص طورسره دبیان اوادا د طرز اثر ډېر غالب اوجوت دے. حافظ او رحمان دواړه عاشقان او صوفیان، دواړه قلندران او د دروېشانو دکیمیا اثره نظر ارزومن اومنتظر دي. (۱۴)"

دخواجه حافظ اورحمان بابا دشعر دوئیلو اندازدیوبل سره ډېرنزدیکت لري. دواړه د روزمرې او محاورې برمحل استعمال کوي. دمتل په راوړلوئې دشعرخوند نورهم سېوا کړے دے. لهجه ئې خوږه، روانه اوپسته ده. اندازئې ډېرساده مګرپه زړۀ پورې دے.

پروفېسرجمیل یوسفزے په دغه باب لیکي:

" خواجه حافظ موقع و محل کی نزاکت کو دیکھتے ہیں' وہ واعظ کی زبان کی ثقالت سے بھی آگاہ ہیں. اور رند ازاد مشرب کے لا ابالیانہ پن کالب ولہجہ بھی جانتے ہیں. فارسی شاعری میں الفاظ کا بہترین امتزاج اور صحیح ترین انتخاب اگر کسی کے کلام میں ہے تو وہ حافظ شرین سخن کا کلام معجز نظام ہے..... اسی طرح رحمان بابا کی شاعری الفاظ و محاورات کی نشست وبرخاست دروبست کے الفاظ سے اپنی مثال آپ ہے نہ کوئی پیغمبرِ سخن اس معراج تک پہنچ سکتا ہے اورنہ آئندہ پہنچ پائے گا. (۱۵)"

رحمان باباچې د درويشانو په باب کوم غزل وئيلے دے ،هغه رنگ غزل دحافظ شيرازي په ديوان کښې هم موجود دے چې عمومي بڼه ئې يوشان ده.

دحافظ شيرازي دغزل مطلع ده:

روضۂ خلد برين خلوتِ درويشان ست
مايۂ محتشمے خدمتِ درويشان ست(۱۲)

ترجمه:د درويشانو خلوت گويا جنت دے او دهغوي خدمت کول دعظمت لويه سرمايه ده.

د رحمان بابادغزل مطلع ده:

که نظر کاڅوک په کار د درويشانو
خود به ووينې وقار د درويشانو(۱۷)

دغه رنگ يوبل غزل هم دفکراوفن په لحاظ يوشانوالے لري:

خواجه حافظ وائي:

دلبرجانانِ من ،برده دل وجانِ من
برده دل وجانِ من ،دلبرِ جانانِ من(۱۸)

ترجمه:زمادلبرزمازړۀ اوځان له مانه يوړل،زما زړۀ اوځان زمادلبرله مانه يوړل.

رحمان بابا هم په دغه اندازغزل ليکي:

سرزماسامان زما ،زارشه ترجانان زما
زارشه ترجانان زما ،سرزماسامان زما(۱۹)

حافظ شيرازي دخپل محبوب په يوتورخال پوره سمرقنداوبخارا وربخښي:

اگرآن ترکِ شيرازي بدستِ آرد دل مارا
بخالِ هندووش بخشم سمرقندوبخارا را(۲۰)

ترجمه:که چرته دشيرازهغه ښکلے زمازړۀ په لاس راوړي نو دهغۀ په تورخال به سمرقنداوبخارا نذرانه کړم.

رحمان بابا په دغه مضمون کښې دخواجه حافظ نه يودوه قدمه وړاندې ځي اود يارد يوويښتهٔ په بدل پوره جهان قربانولوته تيارېږي .

کــه مــې يــوځلې ســتازلفې پــه لاس کېــوځي
يوويښــتهٔ بــه دې پــه درست جهــان ورنهٔ کــړم(۲۱)

دغه رنګ دعرفان په حواله د دواړوفکريووالے لري:

حافظ وائي:

غــرض زمســجدوميخانه ام وصــال شماســت
جــزاين خيــال نــدارم خــداګواه مــن ســت(۲۲)

ترجمه:پـه جومات اوشرابخانه کښې فقط دستاوصال غـواړم.الله ګواه ده چې نورهېڅ غرض نهٔ لرم.

رحمان باباوائي:

هرزيــارت لــره چــې ځــم مرادمــې تــهٔ ئــې
زهٔ زائردبتخـــانې دحـــرم نـــهٔ يـــم (۲۳)

ځنې نورمثالونه:

حافظ: مکن رنج بيهوده خرسند باشد
قناعت کن اين ست اطلس چوبرد(۲۴)

ترجمه:غم مهٔ کوه،خوشحاله اوسه اوقناعت کوه ځکه چې هم دغه اطلسي څادر دے.

رحمان بابا: قناعت مې د خرقې لاندې اطلس دے
پټ په درست جهان بادشاه ظاهرګدايم(۲۵)

حافظ: هرچه کردم همه ازدولتِ قران کردم(۲۶)

ترجمه:مونږچې هرڅهٔ هم وکړل نودقران پاک په برکت مووکړل.

رحمان بابا:

داچـــې زهٔ وتاتـــه وايمـــه کـــه خـــدائے کـــه
پــه اياتوپــه حــديث کښــې بــه ثرګنــد وي(۲۷)

حافظ:

قرار و خواب زحافظ طمع مدار اي دوست
قرارچيست،صبوري کدام،خواب کجا(۲۸)

ترجمه:دحافظ نه دارام اوسکون اميد مۀ کوه ځکه چې قرار،صبر اوخواب هغه نۀ پيژني.

رحمان بابا:

خــوب خنــدا پــه بــې غمــۍ کيــږي رحمانــه
څوک چې ستاپه ځېرغمژن وي څۀ به خوب کا(۲۹)

حافظ:

خفته بر سنجاب شاهي نازنيني را چه غم
گرزخاروخاره سازدبستروبالين غريب (۳۰)

ترجمه:هغه نازنين خوپه شاهي بستري خوب کوي ،هغۀ ته څۀ پته ده که يوغريب په ازغوپروت دے اودبالښت په ځائے يې کاڼے سرته ايښې دے.

رحمان بابا:

چې مدام ئې دسنجاب دپاسه خوب کړ
اوس په زمکه بې بستر و بې بالين شو (۳۱)

حافظ:

ازان زمان که بران آستان نهادم روي
فرازمسند خورشيدتکيه گاه من است(۳۲)

ترجمه:چې دکله نه مې هغه درخپل کور ګنړلے دے له هغې ورځې نه مې نمرته تکيه وهلې ده.

رحمان بابا:

چې يې سر په زمکه ايښې وي و يار ته
په اسمان باندې ختلے لکه نمر دے (۳۳)

حافظ:

قدت گفتم که شمشاد ست بس خجلت ببار آورد
که این نسبت چرا کردیم واین بهتان چرا گفتیم (۳۴)

ترجمه: ستا قدته مې شماد ووې خوډېر شرمنده شوم چې دانسبت مې ولې وکړو او دومره لوئے بهتان مې ولګولو.

رحمان بابا:

که قامت دې څوک شمشادبولي غلط دے
د لړګیو په نرخ سپین زر نۀ یافتیږي (۳۵)

# حوالې:


۱- میراحمدشاه رضواني، مشمولِ غوړګه رحمان نمبر، رحمان ادبي جرګه پېښور، **۱۹۸۵**ء مخ ۷۳

۲- پیرمحمد کاکړ، مشمولِ غوړګه رحمان نمبر، رحمان ادبي جرګه پېښور، **۱۹۸۵**ء، مخ ۷۰

۳- مرزامقبول بیګ بدخشاني، ادب نامه ایران، یونیورستي بک ایجنسي لاهور، سالِ اشاعت ندارد، صفحه ۴۳۸

۴- شمس الدین محمد حافظ شیرازي، دیوانِ حافظ مرتبه عبادالله اختر، مرکز تحقیقات فارسي ایران و پاکستان، ۱۹۷۹ء صفحه ۴۴۴

۵- رحمان بابا، دعبدالرحمان باباکلیات مرتبه سرمحقق سیدمحي الدین هاشمي، میهن خپرندویه ټولنه قصه خواني پېښور، ۲۰۱۴ء، مخ ۳۵۲

۶- رحمان بابا، درحمان باباکلیات، ترتیب اوسمونه دوست محمدخان کامل او قلندرمومند، دچاپزے پېښور، ۱۹۸۴ء، مخ ۸۳

۷- شمس الدین محمد حافظ شیرازي، دیوانِ حافظ مرتبه عبادالله اختر، مرکز تحقیقات فارسي ایران و پاکستان، ۱۹۷۹ء، صفحه ۲۷۷

۸- رحمان بابا، دعبدالرحمان باباکلیات، مخ ۳۴۴

۹- شمس الدین محمد حافظ شیرازي، دیوانِ حافظ مرتبه عبادالله اختر، صفحه ۵۴۴

۱۰- رحمان بابا، دعبدالرحمان باباکلیات، مخ ۱۸۱

۱۱- شمس الدین محمد حافظ شیرازي، دیوانِ حافظ مرتبه عبادالله اختر، صفحه ۳۴۹

۱۲- رحمان بابا، دعبدالرحمان باباکلیات، مخ ۷۲

۱۳- رحمان بابا، درحمان باباکلیات، مخ ۳۲۳

۱۴- دوست محمدخان کامل، رحمان بابا، دچاپزے خیبربازارپېښور، دچاپ کال

ندارد، مخ ۷۴-۷۵

۱۵- پروفیسر جمیل یوسفزئي، رحمان باباخواجه حافظ کا پیروکار، مرکز مطالعات فارسي اورصوبه سرحدمین متعلقه زبانین( پرنټوگراف پشاور) ۲۰۰۴ء، صفحه ۳۲-۳۳

۱۶- شمس الدین محمد حافظ شیرازي، دیوانِ حافظ مرتبه عبادالله اختر، صفحه ۳۷

۱۷- رحمان بابا، دعبدالرحمان باباکلیات، مخ ۲۳۱

۱۸- شمس الدین محمد حافظ شیرازي، دیوانِ حافظ مرتبه عبادالله اختر، صفحه ۴۷۰

۱۹- رحمان بابا، دعبدالرحمان باباکلیات، مخ ۵۵

۲۰- شمس الدین محمد حافظ شیرازي، دیوانِ حافظ مرتبه عبادالله اختر، صفحه ۹

۲۱- رحمان بابا، دعبدالرحمان باباکلیات، مخ ۱۸۶

۲۲- شمس الدین محمد حافظ شیرازي، دیوانِ حافظ مرتبه عبادالله اختر، صفحه ۵۳

۲۳- رحمان بابا، د رحمان باباکلیات، ۱۹۸۴ء، مخ ۱۵۰

۲۴- شمس الدین محمد حافظ شیرازي، دیوانِ حافظ مرتبه عبادالله اختر، صفحه ۲۶۶

۲۵- رحمان بابا، دعبدالرحمان باباکلیات، مخ ۱۹۵

۲۶- شمس الدین محمد حافظ شیرازي، دیوانِ حافظ مرتبه عبادالله اختر، صفحه ۴۱۳

۲۷- رحمان بابا، دعبدالرحمان باباکلیات، مخ ۴۲۱

۲۸- شمس الدین محمد حافظ شیرازي، دیوانِ حافظ مرتبه عبادالله اختر، صفحه ۹

۲۹- رحمان بابا، دعبدالرحمان باباکلیات، مخ ۳۷

۳۰- شمس الدین محمد حافظ شیرازي، دیوانِ حافظ مرتبه عبادالله اختر، صفحه ۲۶

۳۱- رحمان بابا ،درحمان باباکلیات ،مخ ۱۲۹
۳۲- شمس الدین محمد حافظ شیرازي ،دیوانِ حافظ مرتبه عبادالله اختر، صفحه ۵۳
۳۳- رحمان بابا ،دعبدالرحمان باباکلیات،مخ۳۳۸
۳۴- شمس الدین محمد حافظ شیرازي ،دیوانِ حافظ مرتبه عبادالله اختر، صفحه ۴۴۷
۳۵- رحمان بابا ،درحمان باباکلیات،مخ۲۵۲